# پرمختیا

اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۹۸ مه گڼه • پنجشنبه • د وږی ۲۸مه • ۱۳۹۸




۱۰

## د کلیـــو بیارغونې او پراختیـــا وزارت به د چاپیریال ساتنې په برخه کې د ۸۵ میلیـــونه ډالرو په ارزښت درې سترې پروژې پلې کړي



۴

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت او کلیوالي سرکونه



۷

په تیرو دریو کلونو کې په ننگرهار کې د ۷۰۲ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۱٦ پرمختیایي پروژې پلي شوي

# د هیواد په څلورو ولایتونو کې د ۴۳.۲ میلیونه ډالرو په ارزښت د ۹ ښوونځیو جوړولو کار روان دی

۲۸/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې د ۴۳.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د هیواد په څلورو ولایتونو کندهار، بلخ، کندز او لوګر کې د ۹ ښوونځیو جوړولو کارونه روان دي. دا ښوونځي د کندهار په ډنډ، پنجوایي او میوند ولسوالیو کې د کندز په چهاردهي ولسوالۍ، د لوګر په خرخ ولسوالۍ او د بلخ په دهدادي او بلخ ولسوالیو کې جوړیږي. یاد ښوونځي به ٤، ٦، ٨، ١٠، یا ١٢ ټولګي تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه ګانې ولري. د ښوونځیو د جوړولو په ترڅ کې څه باندې ۱۵ زره کاري ورځې رامنځ ته شوي او د ښوونځیو تر بشپړتیا وروسته به د څه باندې ۳۰۰۰ کورنیو زده کونکو ته د ښوونې او روزنې ور چاپیریال رامنځ ته شي.











# په لغمان کې د ۳۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو سړکونو د جوړولو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

۱۳۹۸/وري/۲۳

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي سړکونو د جوړولو ملي پروګرام له لوري د لغمان په مرکز کې د ۱،۷ کیلومتره سړک او د قرغه یي ولسوالۍ کې د ۱،۹ کیلومتره سړکونو هوکړه لیکونه، چې ۳۳ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي، د لغمان ولایتي ریاست له لوري د پرمختیایي شوراګانو له استازو سره لاسلیک شول.

د دې سړکونو په جوړیدو سره به د دې سیمې د خلکو زیاتې ستونزې حل شي او خپل محصولات به په وخت بازار ته ورسوي، چې د دوي په ژوند مثبت تغییر لري.

# په لغمان کې د ۲،۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو دیوې شبکې د جوړولو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/وري/۲۳

د لغمان ولایت مرکز اړوند د نو اباد علي خیل په کلي کې د اوبو رسولو دیوې پروژې چارې د (UNHCR) په ملي مرسته د لغمان ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري پیل شوې.

دا شبکه ٥ مکعب مترو په حجم د اوبو د ذخیره کولو ظرفیت لري او د ۱۰۰ مترو په اوږدوالي د اوبو انتقالولو پایپ چې نویو راستانه شویو مهاجرینو ته به د څښاک اوبه برابروي.





# د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت او کلیوالي سړکونه

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت هڅه کوي، چې د افغانستان ټول کلیوالي سړکونو جوړ کړي، خو امکاناتو ته په پام سره به په لومړني پړاو کې هغه کلیوالي سړکونه جوړېږي، چې زیات اقتصادي ارزښت ولري او د خلکو ورته تر ټولو ډېره اړتیا وي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي سړکونو د ملي پروګرام له لوري په کال ۲۰۰٦ او ۲۰۰۷ کال کې راټول شوي، مالومات ښيي، چې افغانستان ټول ۱۲۱ زره کیلومتره سړک لري، چې ٤۳ زره کیلومتره یې ملي سړکونه، د ولایتونو او ولسوالیو ترمنځ غځېدلي سړکونه دي او پاتې ۷۸ زره کیلومتره سړک په کلیو کې دي.

له دې ۷۸ زره کیلومتره سړک له جملې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت توانیدلي، چې ٤۳ زره کیلومتره درېیمه درجه سړک جوړ او یا ورغوي، د ٦ زره کیلومتره سړک ساتنه او څارنه شوې او د پاتې ۳٦ زره کیلومتره سړک د بیارغونې او جوړونې لپاره هڅې کېږي، چې مالي او نور

امکاناتو د پیدا کولو لپاره یې اوس کار روان دي.
د کلیوالي سړکونو د نوې کړنلارې له مخې چې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له لوري جوړه شوه او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له لوري په پرنسیپ کې تائید شوې، په راتلونکو لسو کالونو کې به ۳۶ زره کیلومتره کلیوالي سړکونه په کانکریټي، جغل اچولو او اسفالټ په ډول جوړیږي.
د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د خپلو همکارانو په مرسته له ۲۰۰۱ کال څخه را پدېخوا ۴۳ زره کیلومتره سړک جوړ کړي، چې په دې کې د بدخشان ۷۵۱ کیلومتره حلقوي سړک هم شامل دي.
همدرنګه د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو ملي پروګرام له لوري د ۲۰۰۰ کیلومتره سړک خارنه او مراقبت هم شوي.
په دې پروژو کې له ۱۳۹۷ کال د جدي میاشتې څخه د ۱۳۹۸ کال د اسد پورې ۳۶ میلیونه او ۷۲۹ زره امریکایي ډالره لګښت شوي.
یاد سړکونه، ولایتونه، له ولسوالیو او کلیو سره نښلوي، چې د کلیوالي خلکو ښارونو ته تګ اسانوي او محصولات یې په وخت د خرڅلاو بازارونو ته رسوي.
د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت کاري ماموریت دي، چې درېیمه درجه کلیوالي سړکونه ورغوي، چې میلیونونه خلک به ترې ګټه اخلي او د دوي په ژوند به مثبت تاثیر لري.







# په لغمان کې به د ۳،۳ میلیونه افغانیو په ارزښت اته کیلومتره سړک جوړ شي

۱۳۹۸/وږي/۲٦

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لارو د جوړولو ملي پروګرام له لوري د لغمان ولایت په الینګار ولسوالۍ کې د ۳،۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اته کیلومتره سړک د جوړولو چارې پیل شوې.

یاد سړک به د سیمې دګڼو خلکو ستونزې حل کړي او د کلیو بیارغونې او پراختیا رئیس یې د چارو په ښه ترسره کېدو ټینګار وکړو.

# په میدان وردګو کې د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه کاریز جوړولو کار روان دی

۲۷/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همږې پروګرام له خوا د میدان وردګ ولایت د مرکز میدان ښار په بسراق احمدزي سیمه کې د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه کاریز د پروژې کار ۴۰ سلنه مخکې تللی دی چې په ترځ کې یې د کاریز څاه ګانې ایستل کیږي او ۲۱۲ متره کانال به هم جوړ شي. ددې پروژې په ترځ کې به ۱٦۱۹ کاري ورځې رامنځ ته شي او تر بشپړتیا وروسته به یې ۱۰۵۰ تنه سیمیز وګړي ددې پروژې له ګټو برخمن شي.





# په تیرو دریو کلونو کې په ننګرهار کې د ۷۰۲ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۱٦ پرمختیایي پروژې پلي شوې

۲۷/ وری/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا له ۲۰۱٦ زیږدیځ کال را پدیخوا د څه باندې ۷۰۲ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۱٦ ټولګټې پروژې د ننګرهار ولایت په بیلابیلو سیمو کې تطبیق کړې چې ۷۳ دغه پروژې بشپړې او ٤۳ نورې یې د بشپړیدو په حال کې دي. د دغو پروژو په لړ کې چې ۷٤ یې له ملي بودیجې، ۲۲ یې د نړیوال آسیایي بانک، ۱۲ یې د ایټالیا او ۸ یې د هندوستان له لوري تمویل شوي ۳۱۱ زره او ۲۷۵ کاري ورځې رامنځته او ۹۵۰ زره او ۸۸ خایې اوسیدونکي لدغو پروژو هر اړخیزه ګټه پورته کوي. د دغو پروژو د تطبیق پر مهال استنادي دیوالونه، د اوبو لګولو سربندونه او کانالونه، ښوونځي، د عامه خدمتونو د اداري تعمیرونه، ټرانسپورټي پلونه، کانکریټي سړکونه او سولر پمپونه جوړ شویدي. د یادونې وړ ده چې دغو پروژو د خایي اوسیدونکو د ټولنیز ژوندانه په بیلابیلو اړخونو کې د پام وړ مثبت اغیز شیندلي دي.



# په ننگرهار کې د ٥.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې ۳ شبکې گټې اخستنې ته وسپارل شوې

۲۳/ وږي/ ۱۳۹۸

د ننگرهار د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست په مرسته د WHH بنسټ له خوا د یاد شوي ولایت د سرخ رود ولسوالۍ په شیخ مصري ښارگوټي کې د ٥.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې ۳ شبکې بشپړې او گټې اخستنې ته وسپارل شوې. هره شبکه ۸۸ متره ژوره څاه، د ۳۲ متره مکعبه په ظرفیت د اوبو زېرمه او ۱۱ نلکې لري. ددې شبکو په بشپړېدا سره ۳٦۰ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاسرسي پیدا کړ.

# په کندهار کې په اړمنو کورنیو د ۱۳٦ زره افغانیو په ارزښت خوراکي توکي ووېشل شول

۲٥/ وږي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون د غلو دانو له بانکونو د کندهار د شگې ولسوالۍ په ماکوانو او رمضان کلیو کې پر بې وزلو کورنیو د ۱۳٦ زره افغانیو په ارزښت خوراکي توکي ووېشل. دا مرستې د کلیوالو او د ټولنیز مشارکت لپاره د وجه مالي (SIG) له خوا چمتو شوې وې، چې غوړي، وريژې، غنم، بوره، لوبیا، مالگه او صابون په کې شامل وو.





# په کاپیسا کې د ۸.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبه خور د یوه کانال جوړول روان دي

۲۷/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا دکاپیسا ولایت د مرکز ددشت ارچي په نواباد کلي کې د ۸.۵ میلونه افغانیو په ارزښت د ۲۴۹۲ متره کانال د ایستلو کار روان دي. ددې پروژې په ترڅ کې ۱۲۰ کاري ورځې رامنځ ته شوي او په بشپړتیا سره به یې سلګونه جریبه ځمکه خړوبه شي او د اوبه خور د اوبو د کموالي ستونزه به هواره شي.

# په دایکنډي کې د ۲٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه ښوونځي جوړولو کار روان دی

۲٦/ وري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د دایکنډي د تخت سنګ ولسوالۍ په بندر بالاي کلي کې د ۲٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه ښوونځي جوړولو کار ٦۰ سلنه مخکې تللي. دا پروژه له ملي بودیجې تمویلیږي په دې ترڅ کې سیمیزو خلکو ته ۵۲۰۰ کاري ورځې رامنځ ته شوي. دا ښوونځي ۱٦ ټولګي لري چې تر بشپړتیا وروسته به یې ۲۳۰۰ کسان ترې ګټه واخلي.





# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت به د چاپیریال ساتنې په برخه کې د ۸۵ میلیونه ډالرو په ارزښت درې سترې پروژې پلې کړي

۱۳۹۸/ وږي/۲۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي نن چهارشنبه د خپل کار په دفتر کې د چاپیرل ساتنې د خپلواکې ادارې له مشر زمان میوندي او په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د پرمختیایي ادراې (UNDP) له مرستیال سره د پرمختیایي پروژو د پلي کېدو او د چاپیرل ساتنې په اړه ولیدل.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د چاپیرل ساتنې او د اقلیمي بدلون په اړه خبرې وکړې او په دې برخه کې یې د یادو ادارو له استازو د همکاریو مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې وزارت د

د چاپیرل ساتنې په برخه کې دوې سترې پروژې د چاپیرل ساتنې د خپلواکې ادارې او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام په مرسته پیلوي، له دې دوو پروژه یوه یې د اقلیمي بدلون سمون نومیږي او لس میلیونه ډالره بودیجه لري، ، چې لګښت یې د را راون کال د جنورۍ په میاشت کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت ته سپارل کېږي او دویمه پروژه یې د اقلیم شین صندوق په نوم یادیږي، چې ۵۰ میلیونه ډالر بودیجه به ولري د وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږي پروګرام په چوکاټ کې به د دوو نورو یادو شریکانو سره په ګډه پلي شي، د یادونې وړ ده، چې د دې دواړو پروژو د پروپوزل جوړولو بهیر روان دي.
د چاپیرل ساتنې د خپلواکې ادارې مشر د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت سره د دوو اړخیزو همکاریو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل، د اقلیم شین صندوق پروګرام ښې مالي سرچینې لري، چې له دې سرچینو به د هېواد د ابادۍ او چاپیرل ساتنې په برخه کې ښه ګټه واخېستل شي.

